نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

**خبری خپرونه**

---

# نړیوال بانک له افغانستان سره دوام لرونکو مرستوبرابرولوله پاره ژمن دی

**واشنګټن، د۲۰۱۲ میلادي کال د اپریل د میاشتې ۲٦ مه:** د نړیوال بانک د اجرائیوي هیئت بورډ نن د افغانستان د اسلامي جمهوریت له پاره د مؤقتي ستراتیژۍ خپل سند تر بحث لاندې ونیو. د دې ستراتیژۍ پراساس د انتقال د پروسې د تطبیق او له هغه راوروسته نړیوال بانک د افغانستان د پرمختیا له پاره دوام لرونکي ژمني اوتعهدات مشخص، ملاتړ او حمایت یې کوي.

دغه مؤقته ستراتیژي د هغه لاسته راوړنو او پایلوپه پیاوړتیا اوپراختیا باندې تمرکزکوي، چې د افغانستان په ستونزمنوشرایطوکي یې ترلاسه کړي دي. *"په وروستۍ لسیزه کې نړیوال بانک له نړیوالې ټولنې سره په ګډه د افغانستان له دولت سره د اساسي خدمتونود برابرولوپه شمول په بیلابیلوبرخوکې مرسته اوهمکاري کړې ده،"* دغه مطلب **د سویلي آسیا له پاره د نړیوال بانک د عمومي رئیس مرستیالي میرمن ایزابل ګوریرو**، څرګند کړ، زیاته یې کړه: *" په د غوڅرګندو لاسته راوړنو کې د روغتیا، پوهنې او حکومتدارۍ اوخدمتونو وړاندې کولو په برخو کې پرمختیایي پروګرامونه او همدارنګه په دغه هیواد کې د یوفعال اوباوري مالي چارو د سیستم د رامنځته کول شامل دي."*

په پام کې دي چې د افغانستان له پاره د نړیوال بانک راتلونکي پروګرامونه به په ۲۰۱۲ - ۲۰۱٤ کلونوکې د مهمومللي پروګرامونو، چې په لومړیتوب کې واقع دي، تمویل او ملاتړ وي. همدارنګه نړیوال بانک به له افغانستان سره له نړیوالې ټولنې څخه د امنیتي او پرمختیایي مسؤلیتونو د لیږدونې له پروسې څخه، چې په پام کې دي د ۲۰۱٤ میلادي کال ترپای پورې بشپړه شي، مرسته اوملاتړوکړي. د نوې ستراتیژۍ پربنسټ د نړیوال بانک ګروپ مرستې پردې لاندې درې اصلونو ولاړې دي:

- د دولتي ارګانونو اونظام د ادارو رامینځته کول او پیاوړتیا .
- د متوازنو خدمتونو برابرول .
- د کار کسب د فرصتونو رامینځته کول او هر اړخیزه وده .

په مشخصه توګه نړیوال بانک خپلو مرستو ته د دولتي ارګانونو د پیاوړتیا او د شفافو مالي چارو په اداري او سیمه ئیزې حکومتدارۍ پورې اړوندو پروسو ته، په ځانګړې توګه د ملي پیوستون د پروګرام له لارې دوام او پراختیا ورکړي. په عین وخت کې نړیوال بانک خپلې مرستې د نورو ملي پروګرامونو، لکه روغتیا، پوهنې، د کلیو اوبانډو اتصال او اوبو لګولو په برخو کې د امکان تربریده برابروي .

د دې ستراتیژۍ پراساس داخلي سرچینې، اقتصادي وده او د کار کسب د فرصتونو رامینځته کول، چې د نړیوالو مرستو د ځای نیولو له پاره ډېرمهم فکټورونه دي او کیدای شي د بهرنیو پوځي ځواکونو په وتلو سره کمښت ومومي، تر مرستې او ملاتړ لاندې نیول کیږي. د نړیوال بانک ارزونې او تحلیلونه څرګندوي چې په دې وروستیو کلونو کې د افغانستان اقتصاد د کتنې وړ وده (په هرکال کې شاوخوا ۹ سلنه) درلوده، چې هغه مستقیماً په نړیرالو مرستو او په دغه هیواد کې د نړیوالو (بهرنیو) ځواکونو په لګښتونو پورې تړلې ده. خو داسې وړاندوینه کیږي، چې د نړیوالې ټولنې د مرستو په کمښت سره کورني (داخلي) عواید هم راکم شي او کیدای شي د دې هیواد اقتصاد په کال کې په سلو کې له ٥ څخه تر٦ پورې وده ولري.

د اقتصادي ودې اساسي اوبنستیزه کلي هماغه د افغانستان د طبیعي سرچینو د لارو چارو پیژندنه اوهغوته زیاته پاملرنه ده، چې د دغه هیواد په پریمانه طبیعي منابعو اوسرچینو باندې زیاته پانګه اچونه په زیربناوو او د خلکو له پاره د کار کسب پیداکولو پورې مستقیم تړاو لري، چې هغه د کارلارې چارې اواقتصادي وده د کانونوله سکتورڅخه جلا او ورها خواوې.

سربېره پردې چې د کانونو سکټور له ګاونډيو هيوادونو سره د ترانسپورت، برېښنا، انرژۍ اونورو زېربناوو په برخه کې د اتصال سبب ګرځي، چې نه يواځې د افغانستان د پرېمانه طبيعي منابعو صادرولو له پاره مرستندويه واقع کيږي، بلکه هغه په سيمه کې د سوداګريزو مرستو او همکاريو د زيات ټينګښت سبب هم ګرځي .

*"دا کار ډېر ضروري دی، ترڅو ټول افغانان، په ځانګړې توګه د کليو خلک د طبيعي سرچينو په پرمختيا کې ونډه اونقش ولري، چې دا کار د چاپيرپال ساتنې د پايښت، امنيت اوتوازن د پياوړتيا لامل ګرځي،"* دغه مطلب **د افغانستان له پاره د نړيوال بانک د دفتر سرپرستي مېرمن جوزيفن بسنيټ**، څرګند کړ .

د دې موضوع په درک سره چې د لېږد او انتقال پروسه او اوسنی نا امنی کيدای شي په افغانستان کې د ښځو او نجونو له پاره احتمالي خطرونه له ځان سره ولري، په جندر پورې اړوند موضوعات په نوې ستراتيژۍ کې ډېر په پام کې نيول شوي دي، چې په پروګرامونو کې ورځای کړای شي. د نړيوال بانک هر پروګرام به داسې طرحه او ډيزاين شي، چې اساس او بنسټ به يې قانونمندي، د کار او کسب د لارو چارو پيداکول او د جندر برابري جوړوي .

د دې ستراتيژۍ په چوکاټ کې د نړيوال بانک مرستې د نړيوالې پرمختيايي ادارې له لارې هرکال د ۱۵۰ ميلونه امريکايي ډالرو وړيا مرستې په برابرولو او د افغانستان د بيارغونې د صندوق له لارې، چې کيدای شي ۸۰۰ ميليونه امريکايي ډالرو وړيا مرسته وي، ولاړې دي. د افغانستان د بيارغونې د صندوق، چې له ۳۰ څخه زياتو تمويلوونکو له خوايې ملاتړ کيږي د اصلاحاتو د عملي کولو په لاره کې له ملي پروګرامونو څخه د ملاتړ له پاره د افغانستان د دولت د بوديجې د تمويل د مرستې ډېر لوی صندوق دی. د نړيوال بانک د خصوصي سکټوربرخه - نړيواله مالي اداره، هم خپلې مرستې ته په افغانستان کې د خصوصي سکټور د پياوړتيا او د کاروبار د لاروچارو د ښه والي له پاره دوام ورکوي .

د دې ستراتيژۍ د تدوين او ترتيب په وخت کې نړيوال بانک د مشورې او مفاهمې له لارې د دولت د استازيو، مدني ټولنې، خصوصي سکټوراو نړيوالې ټولنې د استازيو نظريات راټول کړي او په دې ستراتيژۍ کې يې ځای کړي دي. د نړيوال بانک مرستې او همکارۍ تراوسه پورې د افغانستان د خلکو په ژوندکې د کتنې وړښه والي لامل اوسبب ګرځېدلې دي، په عين وخت کې نومورې ستراتيژي هغو سترو ننګونو اوچلنجونوته، چې د ودې او پرمختيا په لاره کې په ځانګړې توګه په دې ناوړه شرايطو کې شته، پيشبينه ده، نو په همدې اساس د ممکنه لاسته راوړنو په نسبت بايد د خلکوهيلې اوغوښتنې هم واقعبينانه وي، چې کولی شو کومه لاسته رواړنه په نږدې راتلونکې کې ترلاسه کړو .

**د زياتو مالوماتو له پاره لاندې اشخاصو سره اړيکې ټينګې کړئ:**
کابل : عبدالرؤف ضياء ۰۷۰۲۸۰۸۰۰ azia@worldbank.org
واشنګټن : السن ريف ۲۰۲٤۷۳۸۹۵۵ areeves@worldbank.org

د افغانستان نوې مؤقته ستراتيژۍ سند په لاندې ويب پاڼه کې دلاس رسۍ وړ دی:
http://siteresources.worldbank.org/AFGHANISTANEXTN/Resources/305984-1326909014678/AFISN2012.pdf

په افغانستان کې د نړيوال بانک د فعاليتونو په هکله د زياتو معلوماتو له پاره لاندې ويبپاڼې ته مراجعه وکړئ:
www.worldbank.org.af

د افغانستان له پاره د بيارغونې د صندوق په هکله د زياتو معلوماتو ترلاسه کولو له پاره لاندې ويبپاڼې ته مراجعه وکړئ:
www.worldbank.org/artf